مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۱۲** (از ۱۵ الی ۲۲ حمل ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ............ ۲

### په یمن کې د ایران-عربستان لوبه او افغانستان

- د یمن بحران؛ مخینه او عوامل ............ ۴
- د یمن د بحران نړیوال اهمیت ............ ۵
- په یمن کې د ایران او عربستان لوبه ............ ۶
- د ایران او سعودي سیمه‌ییز پلویان ............ ۶
- د افغانستان دریځ ............ ۷

### معمای ۳۱ مسافر گمشده

- عملیات نظامی در زابل ............ ۹
- نادرستی یک ادعای دیگر ............ ۱۰
- گروه داعش در کجاست؟ ............ ۱۱
- ابهام و نگرانی ............ ۱۲
- گروگان‌ها در کجا اند؟ ............ ۱۳

## مقدمه

په یمن کې د عربي پسرلي د پاڅونونو په پایله کې جوړ شوی منتخب حکومت، څه موده وړاندې د یمن د شیعه مذهبه وګړو "حوثیانو" د کودتا په پایله کې ونړول شو. په دغه هېواد کې د حوثیانو له واک ته رسېدو وروسته، یو زیات شمېر هېوادونو په صنعاء کې خپل سفارتونه وتړل او په وروستي ګام کې د یمن ګاونډې هېواد سعودي عربستان د یوه سیمه‌ییز ائتلاف په جوړولو سره پر حوثیانو پوځي بریدونه پیل کړل.

پر یمن د سعودي عربستان او ائتلافي ملګرو په بریدونو کې هره ورځ د حوثي اورپکو ترڅنګ، عامو وګړو ته هم درنه مرګ ژوبله اوړي. د یمن د روان بحران تاریخي شالید او عوامل څه دي؟ په یمن کې د روانې نیابتي جګړې اصلي لوبغاړي څوک دي؟ او همدا راز په دې تړاو د افغانستان دریځ ترکومه پر ځای و؟

د دې ترڅنګ، له تېرو نژدې دوه میاشتو راهیسې په زابل ولایت کې د ۳۱ تنو تښتول شوو مسافرو په اړه، په رسنیو کې بېلابېلې آوازې خپرېږي او لاهم د تښتوونکو د ځای ځایګي او د هغوی د غوښتنو په اړه کره معلومات نشته دي. دا چې وسله‌والو طالبانو هم په دې پېښه کې لاس لرل رد کړي، اوس پوښتنه دا ده چې دا مسافر چا او کومې سیمې ته تښتولي دي؟

د دې اوونۍ په تحلیل کې، پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې لولئ:

# په یمن کې د ایران-عربستان لوبه او افغانستان




یمن له تېرې یوې لسیزې راهیسې د کورنۍ جګړې ښکار دی. که څه هم دغه جګړه په ۲۰۱۰ کال کې یو څه سړه شوه؛ خو د عربي پسرلي له پیلېدو سره یې بیا زور واخیست او په ۲۰۱۱ کال کې د دغه هېواد ولسمشر "علي عبدالله صالح" استعفا ته اړ شو. د علي عبدالله صالح له استعفا وروسته د یمن نوي ولسمشر "عبدربه منصور هادي" د ډېرو لاملونو له کبله د خپل هېواد وضعیت کنټرول نه شو کړای او د دغه هېواد شیعه مذهبه وګړو "حوثیانو" ځینې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستې او په وروستي اقدام کې یې د یوې کودتا په پایله کې حکومت او پارلمان منحل اعلان کړل.

سعودي عربستان د یمن ترټولو مهم ګاونډی هېواد دی او په یمن کې د خپلو ستراتېژیکو ملګرو له ځپل کېدو او د ایران-پلوه شیعه ډلې له راتګ سره دا هېواد نور د ځان او عربي نړۍ لپاره ګواښ بولي. د همدغه ګواښ د ختمولو لپاره یې د عربو او سُني هېوادونو له یوه لوی ایتلاف سره پر یمن پوځي بریدونه پیل کړل.

د یمن دغه بحران افغانستان ته هم ریښې راوکړې او له امله یې د افغانستان د بهرني سیاست په اړه تاوده بحثونه پیل شول؛ خو پوښتنه دا ده، چې د یمن په تړاو د افغانستان دریځ څه ډول و؟ د یمن بحران له کوم ځایه پیل شو او اصلي ریښې یې څه دي؟ دغه راز په یمن کې د کومو هېوادونو ترمنځ لوبه روانه ده او د سیمې پر جیو-پولیټیک حالت یې څه اغېزې ښندلې دي؟

## د یمن بحران؛ مخینه او عوامل:

په یمن کې له تېرو زرو کلونو راهیسې شیعه زیدي امامانو حکومت کاوه، چې په پای کې په ۱۹٦۲ میلادي کال کې د یوه انقلاب په پایله کې د زیدي امامانو د حکومت لړۍ ختمه شوه. په ۱۹۷۸ کال کې علي عبدالله صالح د شمالي یمن ولسمشر شو او وروسته چې کله په ۱۹۹۰ کال کې یمن بېرته سره متحد شو، نو علي عبدالله صالح یو ځل بیا تر عربي انقلاب پورې د متحد یمن ولسمشر پاتې شو.

په اتیایمه لسیزه کې په یمن کې د "معتقدو ځوانانو" تر نامه لاندې د زیدیانو یوه ډله جوړه شوه، چې بنسټګر یې یا خو "محمد الحوثي" او یا هم "حسین الحوثي" و. دغې ډلې په پیل کې په سوله‌ییزه مبارزه باور درلود خو وروسته یې وسله‌واله مبارزه پیل کړه[1].

په ۲۰۰۴ کال کې چې کله د یمني سرتېرو له خوا د حوثیانو مشر، حسین بدرالدین الحوثي ووژل شو؛ نو دغه تنظیم د خپل مشر نوم پر خپل تنظیم هم کېښود او اوس دغه ډله د "الحوثیون" یا انصار الله په نوم یادېږي. دې ډلې له ۲۰۰۴ کال څخه تر ۲۰۱۰ کال پورې شپږ ځله د یمن د حکومت پرخلاف وسله‌واله مبارزه وکړه؛ خو د یمن حکومت د خو لاملونو له کبله -چې له هغې جملې په یمن کې د القاعدې شبکې شتون، اوږده جګړه او د یمني حکومت د اقتصاد ځپل کېدل د یادونې وړ دي- په ۲۰۱۰ کال کې له حوثیانو سره روغه-جوړه وکړه[2].

په همدې کال په شمالي افریقا او د منځني ختیځ په بله برخه کې د عربي پسرلي په نامه پاڅونونه پیل شوي وو او ډېر ژر یې د تونس او مصر حکومتونه رانسکور کړل. د دغو ولسي پاڅونونو لړۍ یمن ته هم ورسېده او په یمن کې هم د علي عبدالله صالح د حکومت پرخلاف د یمن خلکو پاڅونونه پیل کړل، چې حوثیانو هم په دغو پاڅونونو کې برخه واخېسته.

---

[1] Saeed Al Batati, Who are the Houthis in Yemen?, Aljazeera English, 29 March 2015, 9 April 2015, see it online:< http://www.aljazeera.com/news/middleeast/2014/08/yemen-houthis-hadi-protests-201482132719818986.html>

[2] د دغو شپږو مرحلو وسله والې مبارزې او د سولې تړون په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره ولولئ:
Christopher Boucek, War in Saada: From local insurrection to National Challenge, Carnegie Papers, Number 110, April 2010, retrieved at 9 April 2015, see it online: http://carnegieendowment.org/files/war_in_saada.pdf

له هغه وروسته په یمن کې حالات ورو ورو خرابېدل او بالاخره په ۲۰۱۱ کال کې علي عبدالله صالح استعفا ته اړ شو او پرځای یې عبدربه منصور هادي په ټولټاکنو کې د دغه هېواد نوی منتخب ولسمشر وټاکل شو. حوثیانو د تېلو د نرخونو او نورو اقتصادي ستونزو له کبله له منصور هادي سره هم مخالفتونه پیل کړل، چې وروسته دغه مخالفتونه هم د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي په مرسته د یوه سوله‌ییز تړون په مرسته ختم شول؛ مګر بیا هم حوثیانو په یمن کې خپله جګړه روانه وساتله او بالاخره یې څه موده وړاندې پر منتخب حکومت کودتا وکړه، خپل حکومت یې اعلان کړ او اوس د پاتې سیمو د نیولو هلې ځلې کوي.

## د یمن د بحران نړیوال اهمیت:

نړیوالو ته د یمن بحران د څو لاملونو له کبله د ارزښت وړ دی:

1. دغه سیمه ستراتېژیک ارزښت لري او تقریباً د نړۍ له اوو ستراتېژیکو تنګیو څخه یو تنګی د یمن باب المندب دی. د دغه تنګي ارزښت یوازې له دې هم څرګند دی، چې هره ورځ له دغه تنګي څخه ۳.۳ ملیون بېرله تېل تېرېږي[3].
2. په یمن کې د ایران-پلوې شیعه ډلې له واکمنېدو سره، له سعودي څخه د شیعه ګانو د حصار کړۍ راتاو شوه، چې سعودي یې د ځان لپاره ګواښ بولي.
3. د یمن په داخلي بحران کې د دواړو ښکېلو ډلو ملاتړي (ایران او سعودي)، له یو بل سره په سړه جګړه بوخت دي، بلکې له لویه سره د دغو هېوادونو نړیوال ملاتړي (امریکا، روسیه، چین او اروپايي ټولنه) هم له یو بل سره په یوه نوې سړه جګړه کې سره ښکېل دي.
4. دا چې په دغه جګړه کې دوه لوري په مذهبي لحاظ شیعه او سُني دي؛ نو له همدې امله د شیعه-سُني جګړې نوم ورکول کېږي او د نړۍ مسلمانان دغه جګړه په ډېر دقت څاري.
5. له ۲۰۰۴ کال راهیسې د یمن داخلي جګړې له درې سوه زره زیات یمنیان کډوالۍ ته اړ کړي[4] او اوسنی بحران به دغه شمېره لا زیاته کړي. د دې ترڅنګ بې‌ګناه کسانو ته د مرګ ژوبلې اوښتو له کبله هم، د دغې قضیې اهمیت زیات شوی دی.

---

[3] World Oil Transit Chokepoints. Energy Information Administration, US Department of Energy.
http://www.eia.gov/todayinenergy/detail.cfm?id=330

## په یمن کې د ایران او عربستان لوبه:

یمن نه یوازې دا چې د نړۍ په ستراتېژیکه او اقتصادي جغرافیه کې خپل ارزښت لري، بلکې دغې سیمې د سعودي-ایران د رقابت او سړې جګړې له کبله هم د دواړو هېوادونو لپاره اهمیت پیدا کړی دی. د عربي پسرلي له پیلېدو سره، ایران او سعودي په سوریه، عراق او اوس په یمن کې ښکېل شوي دي. ځکه خو د امنیتي او ستراتېژیکو قضایاوو وتلی تحلیلګر "مارتن ریاردن" په یمن کې د سعودي-ایران رقابت ته د نولسمې پېړۍ د هغه رقابت او لویې لوبې په سترګه ګوري، چې په افغانستان کې تزاري روسیه او انګلیسي هند پکې بوخت وو[5].

یمن او سعودي داسې ګډه پوله لري، چې له یوې خوا ناقانونه کډوال په آسانۍ سره ترې تېرېږي[6] او له بلې خوا له دې لارې مخدره مواد او وسلې هم قاچاق کېږي. همدا لامل دی، چې په یمن کې به د ایران پلوه شیعه ډلې راتګ په آسانۍ سره ایران یمن ته ورسوي، او یمن ته د ایران رسېدل به سعودي ته د رسېدلو په معنا وي.

## د ایران او سعودي سیمه‌ییز پلویان:

له ۱۹۹۱ کال څخه تر ۲۰۰۷ کال پورې د ایران-سعودي اړیکې مخ په ښه کېدو وې؛ مګر د عربي پسرلي له پیل کېدو او اوس بیا د ایران د اتومي پروګرام پر سره د ایران او ۵+۱ هېوادونو له توافق سره د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې یو ځل بیا خرابې شوې او سعودي په منځني ختیځ کې د ایران-ضد ائتلاف جوړولو هڅې پیل کړې.

---

[4] UNHCR, Yemen: Monthly factsheet (Jan 2015), retrieved at 9 April 2015, see it online: http://www.unhcr.org/4c907a4a9.html

[5] Martin Reardon, Saudi Arabia, Iran and the 'Great Game' in Yemen, Aljazeera English, 26 March 2015, retrieved at 9 April 2015, see it online: http://www.aljazeera.com/indepth/opinion/2014/09/saudi-arabia-iran-great-game-ye-201492984846324440.html

[6] د یوې څېړنې له مخې هر کال له دغه سرحد څخه ۴ لکه خلک په غیر قانوني توګه اوړي، وګورئ:
Brian Whitaker. "Saudi Security Barrier Stirs Anger in Yemen." The Guardian. February 16, 2004.
http://www.theguardian.com/world/2004/feb/17/saudiarabia.yemen

د یمن د بحران له پیل کېدو او د سعودي له خوا پر یمن د هوایي بریدونو له کبله ایران، د سوریې حکومت او لبنان (حزب الله) په یوه ایتلاف کې او سعوي عربستان، مصر، اردن، امارات او قطر په بل ایتلاف کې سره راټول شول. د دې ترڅنګ افغانستان، ترکیه او پاکستان تر اوسه بې‌طرفه پاتې دي، خو په ټوله کې د سعودي پلویان ښکاري.

دا چې د افغانستان، پاکستان او ترکیې دریځونه د بې‌طرفۍ او د سعودي-پلوۍ ترمنځ ښکاري، لاملونه یې په لاندې ډول دي:

- افغانستان یوازې د حرمینو شریفینو او د سعودي له حدودو څخه ملاتړ کړی، خو د یمن قضیې په اړه یې د ملګرو ملتونو او اسلامي کنفرانس د منځګړتوب پر حل ټینګار کړی. د دې ترڅنګ یې د یمن په قضیه کې پوځي ونډه نه ده اخیستې.
- پاکستان که څه هم د سعودي ستراتېژیک ملګری دی او د سعودي له حدودو څخه دفاع خپل مسؤولیت بولي، خو تر اوسه یې په پوځي بریدونو کې ونډه نه ده اخیستې. داسې اټکل هم کېږي چې پاکستان به هم د پوځي ایتلاف برخه شي. همدا راز پاکستان چې د اسلامي نړۍ د مشرتوب دعوې کوي، شاید د ترکیې ترڅنګ د دریمګړي هېواد رول ولوبوي.
- ترکیې له یوې خوا په یمن کې د ایران رول غندلی؛ خو له بلې خوا یې له سعودي سره د یمن په برید کې ونډه نه ده اخیستې. له دواړو سره یو شان اړیکې لري، دا هېواد هم یو له هغو هېوادونو کېدلی شي، چې د یمن د قضیې په حل کې به رول ولوبولی شي.

## د افغانستان دریځ:

د یمن په تړاو د افغانستان دریځ له ډېرو مشورو وروسته په یوه اعلامیه کې راڅرګند شو، چې اوسمهال د بې‌طرفۍ او ریل-پولیټیک ترمنځ دی. دغه اعلامیه څو مهم ټکي لري:

- افغانستان به د حرمین شریفین له سپېڅلي خاورې څخه د دفاع لپاره د هر ډول ګواښ د رامنځته کېدو په صورت کې به په ټول قوت سره د سعودي عربستان د دولت او د هغه هېواد د مسلمانو ورونو ترڅنګ ودرېږي.

- افغانستان په یمن کې د ولسواکۍ پر اصل او د قانوني نظام پر مشروعیت باور لري او د هغه هېواد له قانوني حکومت څخه ملاتړ کوي.
- افغانستان د بحران د حل پلوی دی او باید د اسلامي کنفرانس او ملګرو ملتونو د سازمان په مرسته، دغه بحران ته د پای ټکی کېښودل شي.

په دې اعلامیه کې څو خبرې ډېرې مهمې دي، چې هم د ملګرو ملتونو له قانون سره، چې ولسواکي ده، او هم د افغانستان له عنعنوي سیاست سره، چې ناپېیلتوب دی، اړخ لګوي. افغانستان چې یو مسلمان هېواد دی او د نړۍ د ټولو مسلمانانو په څېر پرې د مسلمانانو مقدس ځایونه ګران دي، یوازې د دغو مقدسو ځایونو د ساتلو په تړاو یې خپل ملاتړ څرګند کړی؛ خو د یمن د بحران د حلولو په اړه یې بیا د اسلامي کنفرانس او ملګرو ملتونو پر رول ټینګار کړی دی.

له بلې خوا اشرف غني له تېرو څو میاشتو راهیسې سوله د خپل بهرني سیاست تر ټولو مهمه برخه ګرځولې او له همدې کبله د افغانستان د سولې په اړه د سعودي دریځ نه یوازې دا چې پر پاکستان اغېزه لرلی شي، بلکې یو شمېر طالبان هم اغېزمنولی شي. له همدې کبله د کابل بهرنی سیاست دا مهال تر ډېره پر (پاکستان-سعودي-افغانستان) او (پاکستان-چین-افغانستان) راڅرخي.

په اقتصادي اړخ کې هم، په لومړي ګام کې د سعودي عربستان هغه ژمنه چې تقریباً یو لک افغانانو ته به د کار وېزې ورکوي، ښایي د دغه دریځ له کبله عملي جامه واغوندي، چې د افغانستان پر اقتصاد به مثبتې اغېزې وښندي.

# معمای ۳۱ مسافر گمشده




از اختطاف ۳۱ مسافر هزاره در مسیر راه سفر شان به کابل در ولایت زابل، حدود ۵۰ روز می‌گذرد اما هنوز نمی‌دانیم که این کار توسط کدام گروه صورت گرفته و خواست آنان در برابر این گروگانگیری چیست؟

در طول این مدت مقامات امنیتی حکومت افغانستان مدعی شدند که عملیات بزرگی را در ولایت زابل به راه انداختند و حدود صد تن از مخالفین مسلح دولت را در ولسوالی خاک افغان این ولایت کشتند، اما از اختطاف شده‌گان اثری به دست نیاوردند. در طول این مدت این سوال‌ها هنوز هم بی‌جواب است که مسؤول این ماجرا چه کسانی اند و چه می‌خواهند؟

## عملیات نظامی در زابل:

مقامات نظامی افغانستان بعد از این ماجرا از عملیات شان علیه گروه داعش به رهبری ملا عبدالله "حقمل" در ولایت زابل سخن گفتند و مدعی شدند که امکان دارد ملاعبدالله در میان کسانی که توسط نیروهای افغان دستگیر شده، باشد و یا کشته یا زخمی شده است؛ اما ملاعبدالله "حقمل" به تاریخ ۹ مارچ با تماس تیلفونی به

سرویس پشتوی رادیو ایران این ادعای مقامات افغان را تکذیب کرده است. وی به این رادیو گفته است که گزارش‌های منتشر شده از طرف حکومت افغانستان که وی با گروه داعش پیوسته، دروغ محض است. به گفتۀ او، شاید در ولایت زابل گروه داعش حضور داشته باشد، اما وی همچنان فرمانده طالبان در این ولایت است.

به گفتۀ حقمل، طالبان در ربوده شدن این ۳۰ مسافر هیچ نقشی نداشته اند و ادعای نیروهای حکومتی مبنی بر زخمی شدن خود را نیز رد کرده است. ملاعبدالله تاکید ورزیده که او تحت رهبری ملامحمد عمر به جنگ علیه نیروهای خارجی ادامه خواهد داد.

از سخنان فرمانده طالبان در ولسوالی خاک افغان برمی‌آید که در آن عملیات تلفاتی به گروگانگیران وارد نشده؛ زیرا اگر این کار صورت می‌گرفت و گروگانگیران با تلفات مواجه می‌شدند، آنها هم به کشتار گروگان‌ها می‌پرداختند.

## نادرستی یک ادعای دیگر:

به زودی نام یک فرمانده دیگر طالبان منصور دادالله که دیگر در جنگ سهم ندارد به گوش رسید و گفته شد که وی اکنون فرماندهی داعش را در افغانستان به عهده دارد.

اما منصور دادالله نیز به تاریخ ۳ اپریل در تماس با سرویس پشتوی رادیو ایران این اتهام علیه خود را رد کرده است. وی در یک تماس تیلفونی، شایعات رهبری داعش توسط خودش را تکذیب نموده و گفته است که چنین شایعات نادرست از طرف رسانه‌های امریکایی و جانبدار امریکا به نشر می‌رسد. به گفتۀ او «من هیچگاه از تحریک طالبان جدا نخواهم شد و به عنوان یک طالب خواهم مرد.»

منصور دادالله افزوده است که «برای گروه داعش در افغانستان هیچ جایی وجود ندارد زیرا همۀ ما تحت رهبری ملامحمد عمر علیه نیروهای اشغالگر مبارزه می‌کنیم و تا زمانیکه نیروهای خارجی در افغانستان حضور داشته باشند، در هیچ پروسۀ صلح شرکت نخواهیم کرد.»

ملا منصور دادالله برادر بزرگتر ملادادالله فرمانده معروف طالبان است که چند سال قبل به دنبال دیدار با مایکل سمپل، از فرماندهی طالبان در هلمند توسط ملامحمد عمر برکنار گردید و سپس در پاکستان دستگیر و زندانی شد. او حدود ۵ سال را در زندان سپری کرد و سال گذشته آزاد شد.

منصور دادالله در مورد اینکه چرا پاکستان را ترک کرده، گفته است که سازمان استخبارات نظامی پاکستان "آی اس آی" از من خواست‌هایی داشت که مخالف با منافع ملی کشورم بود و هرگز نمی‌توانست مورد قبول من باشد. من به همین دلیل پاکستان را ترک گفتم و به افغانستان بازگشتم تا در کنار سایر طالبان به مبارزه علیه نیروهای خارجی ادامه دهم.

## گروه داعش در کجاست؟

طالبان در دوران حاکمیت شان به تعدادی از جنگجویان خارجی در افغانستان پناه داده بودند که بعد از سرنگونی امارت اسلامی طالبان، این افراد نیز به مناطق قبایلی آن‌سوی دیورند به خصوص، به وزیرستان شمالی پناه بردند.

در سال ۲۰۰٦ میان جنگجویان حرکت اسلامی اربیکستان و طالبان پاکستانی مستقر در وزیرستان شمالی به رهبری حافظ گل بهادر و ملانذیر جنگ درگرفت. ملامحمد عمر در آن زمان به بیت الله محسود دستور داد تا ازبیک‌ها را به صورت موقتی به منطقۀ تحت کنترول خود پناه دهد. سپس تعداد زیادی از این افراد با خانواده‌های شان در ولسوالی‌های دای چوپان و خاک افغان ولایت زابل رفتند، اما تغییر برنامۀ طالبان که برنامۀ جهاد بین‌المللی را ترک کردند، آن‌ها را از آینده مایوس ساخت.

طالبان بعد از سال ۲۰۰۱ تغییراتی را در برنامه‌های شان به میان آوردند که یکی از آن‌ها دور شدن از برنامه‌های جهادی در سطح بین‌المللی بود. این تغییر را آن‌ها در عمل نیز به نمایش گذاشتند و برنامه‌های جنگ خویش را، تنها به افغانستان محدود ساختند.

زمانیکه ابوبکر بغدادی تاسیس دولت اسلامی را اعلام نموده و خود را خلیفه خواند، کاملا مشخص بود که اگر گروهی در افغانستان با گروه دولت اسلامی اعلام بیعت نماید همین گروه خواهد بود که می‌خواهد جنگ را به خارج از مرزهای افغانستان ببرد. امروز همین گروه با داعش بیعت کرده است.

در مورد حضور گروه داعش در مناطق مختلف افغانستان زیاد تبلیغ شده است. این شایعات زمانی اوج گرفت که قرار شد رئیس جمهور غنی به کنفرانس مونیخ برود و موضوع مهم این کنفرانس نیز مشکل داعش در جهان بود. شایعات ظهور گروه داعش در افغانستان می‌توانست برای جلب کمک بین‌المللی به افغانستان مؤثر باشد.

از طرف دیگر گروه داعش نیز با انتصاب حافظ سعید به عنوان امیر و ملا عبدالرؤوف خادم به عنوان معاون وی، نخستین قدم را برای حضور در افغانستان برداشت. ملاعبدالرؤوف به دنبال این اعلام داعش، زیر فشار طالبان در ولایت هلمند قرار گرفت، اما وی به زودی در اول فبروری ۲۰۱۵ در نتیجهٔ حملهٔ یک طیارهٔ بی‌پیلوت امریکایی در ولسوالی کجکی ولایت هلمند کشته شد.

## ابهام و نگرانی:

اخیرا حاجی محمد محقق معاون اول رئیس اجرائیهٔ حکومت وحدت ملی به رسانه‌های خارجی گفته است که ۳۱ مسافر هزاره توسط گروه داعش به رهبری منصور دادالله و ملاعبدالله حقمل ربوده شده‌اند. محقق یکی از شخصیت‌های مهم این حکومت است و این اطلاعات را وی احتمالا از منابع بلندپایهٔ امنیتی کشور به دست آورده است. اگر این احتمال درست باشد، پس به نظر می‌رسد که منابع امنیتی ما نیز از این جریان به صورت دقیق اطلاعی ندارند و همین فقدان اطلاعات به ابهام این جریان می‌افزاید.

ابهام دیگر در این ماجرا اینست که رسانه‌ها قبلا گزارش دادند که مقامات محلی ولایت زابل از طریق محاسن سفیدان در منطقه با گروگان‌گیران در تماس شده‌اند. اگر واقعا چنین تماس‌ها صورت گرفته باشد، حتما گروگان‌گیران در برابر رهایی گروگان‌ها خواست‌هایی دارند. از این خواست‌ها می‌توان به هویت اصلی گروگان‌گیران پی برد، ولی مقامات حکومت افغانستان در مورد خواست‌های گروگان‌گیران چیزی نگفته اند که این مسئله به نگرانی خانواده‌های گروگان‌ها افزوده است.

## گروگان‌ها در کجا اند؟

این سوال مهمی است که هیچکس به شمول طالبان به آن جوابی نداده‌اند. طالبان در اعلامیه‌ای که بعد از این گروگان‌گیری به نشر رسانیدند، تصریح نمودند که هیچ نقشی در این ماجرا نداشته و از محل اختفای گروگان‌ها نیز اطلاعی ندارند.

اگر این سخن طالبان درست باشد، قضیه بازهم مبهم‌تر می‌شود. پنهان کردن ۳۱ گروگان در مناطق تحت کنترول طالبان کار ساده‌ای نیست و به خصوص اگر گروگان‌گیران، آن‌ها را به گروه‌های کوچک در مناطق مختلف پراکنده ساخته باشند، پنهان کاری مشکل‌تر می‌شود و امکان ندارد که طالبان از این جریان بی‌خبر باقی بمانند. طالبان برای جلوگیری از نفوذ جاسوسان دولت، حضور افراد ناشناس را در مناطق تحت کنترول شان نادیده نمی‌گیرند.

امکان دیگر اینست که این افراد توسط همین جنگجویان خارجی که اکنون با داعش اعلام بیعت کرده‌اند، در پناه‌گاهی دور از مناطق مسکونی در کوهستان‌های صعب العبور در زابل، زندانی شده باشند. این شایعه نیز شنیده شده است که تعدادی از زنان و اطفال همین گروه پیوسته به داعش، که از مسیر راه‌های تحت کنترول حکومت افغانستان به سوی شمال کشور می‌رفتند، توسط نیروهای افغان دستگیر شده‌اند و این گروه در برابر آزادی ۳۱ گروگان، خواهان آزادی خانواده‌های خود شده‌اند، اما دولت افغانستان نمی‌خواهد این موضوع را افشا سازد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)